# هیواد
ورځپاڼه


## په تېرو پنځو ورځو کې نږدې ۴۰ زره تنه کډوال هیواد ته راستانه شوي

د کندهار سیمه ییز مسئولین وایي چې په تېرو پنځو ورځو کې ۳۸ زره ۶۶۴ تنه چې ۶ زره ۱۳۸ کورنۍ کېږي؛ د سپین بولدک له لارې هېواد ته راستانه شوي دي. دغه کسان هیواد ته له راستنېدو سره سم، د سپین بولدک د کډوالو چارو آمریت کې ثبت او راجستر شوي دي.د مسئولینو د معلوماتو له مخې؛ دغه کسان د مرستې ترلاسه کولو په موخه، د کډوالو نړیوال سازمان «آي.او.ام» ته معرفي شوي دي.دغه راز، د افغانستان د اسلامي امارت له لوري هرې کورنۍ ته ۱۰ زره افغانۍ نقدي مرسته هم شوې ده.د خپرو شویو شمېرنو له مخې؛ په وروستیو څو ورځو کې، څه د پاسه ۳۰۰ زره هېوادوال د تورخم او سپین بولدک له لارو څخه هېواد ته راستانه شوي دي او دغه لړۍ لا هم دوام لري. **باختر**


مؤسس: عبدالرووف بېنوا | د تاسیس کال ۱۳۲۸ لمریز | سه‌شنبه دربیع الثاني ۲۳ مه ۱۴۴۵ ق کال | د لړم ۱۶ مه ۱۴۰۲ ل کال | دنوامبر ۷ مه ۲۰۲۳ م کال | خصوصي ګڼه ۱۶۹ مه | پرله‌پسې ګڼه ۲۵۹ مه، اتمه‌دوره


## ملا عبدالغني برادر اخوند: اسلامي امارت د اقتصاد محوره بهرني سیاست پر بنسټ غواړي له ایران سره سیاسي، اقتصادي، ټرانزیټي او سوداګریزې اړیکې پراخې کړي



د افغانستان د اسلامي امارت د ریاست‌الوزراء اقتصادي مرستیال ملا عبدالغني برادر اخوند د ایران اسلامي جمهوریت ته د خپل سفر په ترڅ کې د ایران د ولسمشر له مرستیال ښاغلي محمد مخبر سره وکتل .په دې کتنه کې دواړو لوریو د افغانستان او ایران ترمنځ د سیاسي- اقتصادي تعامل پر پیاوړتیا، د سیمې او نړۍ پر سیاسي وضعیت او همدارنګه په فلسطین کې د اسرائیلو د ظالم رژیم له لوري د ترسره شویو جنایتونو په اړه بحث او خبرې وکړې.د ریاست‌الوزراء **۵مخ**

## ستانکزی: هیواد کې د پانګونې لپاره له بل هر وخته ښه زمینه برابره شوې

د بهرنیو چارو وزارت سیاسي مرستیال شېر محمد عباس ستانکزي، د افغانستان راتلونکي اقتصادي او بهرنیو پانګوالو وغوښتل، چې له دې فرصت څخه په ګټې اخیستنې افغانستان کې پانګونه وکړي.



پراختیا نړیوال کنفرانس کې وویل، چې اوس مهال افغانستان کې له بل هر وخته د پانګونې ښه زمینه برابره شوې ده. نوموړي له کورنیو سیاسي مرستیال په خپلو خبرو کې وویل، چې افغان حکومت هڅه کوي له شته امکاناتو په استفادې، افغانانو ته د کار زمینه برابره کړي.

## مزارشریف ښارکې سږ کال ۲۰ پروژې پلي کېږي

د مزارشریف ښاروالۍ مسئولین وایي، چې په دې ښار کې به روان کال د ۲۵۰ میلیونو افغانیو په ارزښت ۲۰ پراختیایي پروژې پلي شي. په ورته مهال د مزارشریف ښاروالۍ له خوا د دغه ښار په شپږمه ناحیه کې د آدینه جومات ګذر سړک د پخولو چارې د ۸ میلیونو افغانیو په لګښت پیل شوې. د مزارشریف ښاروال ویلي، چې دغه سړک د ۴۳۵ مترو په اوږدوالي او د ۱۰ متره سور سره د مزار شریف ښاروالۍ له خوا په پاخه او اساسي ډول **۵مخ**

## د تورخم اساسي روغتیایي مرکز له ( BHC ) څخه ایمرجنسي روغتون ته ارتقاء وکړه

د عامې روغتیا وزارت له ( BHC ) څخه ایمرجنسي ته د تورخم اساسي روغتیایي مرکز د ارتقاء خبر ورکړی دی.یاد وزارت د یوې خبرپاڼې په خپرولو سره ویلي، چې په همدې موخه جوړو شویو مراسمو کې د عامې روغتیا وزارت د مالي او اداري چارو مرستیال مولوي محمد اسحق صاحبزاده د ننګرهار والي، حاجي ملا محمد نعیم اخند، روغتیایي کارکوونکو او نورو مسئولینو ګډون کړی و.د عامې روغتیا وزارت د مالي او اداري چارو مرستیال، مولوي محمد اسحق صاحبزاده د دې روغتون ارتقاء د سیمې د اوسېدونکو لپاره یو ستر زېری وګاڼه او ویې ویل:



(( د افغانستان اسلامي امارت د عامې روغتیا وزارت ژمن دی، چې د هېواد په ټولو نړدې او لرې پرتو سیمو کې معیاري، عادلانه روغتیایي خدمتونه وړاندې کړي، د روغتیایي برخې ترڅنګ په چټکۍ سره په نورو برخو کې سترې سترې پروژې پرانیستل شوې او دا له دې ولس سره د اسلامي امارت ژمنتیا ده او وروسته له ډېر وخت څخه افغانستان خپل اصلي ساتونکي او مالک پیدا کړي دي.)د یادونې وړ ده، چې دغه روغتون ۲۰ بسترونه لري او د عمومي جراحي، **۵مخ**

## افغانستان او ازبیکستان د سوداګرۍ پر پراختیا خبرې کړي

ازبیکستان ته دافغان حکومت د پلاوي سفر سره هم‌مهاله، د افغان حکومت مسئولین وایي: دغه پلاوي به ازبیکستاني چارواکو سره پر بېلابېلو برخو کولو، د ټرانزیټ په برخه کې د ستونزو د حل او د افغان ـ ترانس د وسپنې پټلۍ د چارو پیلولو لپاره د بهرنۍ پانګونې پر جلبولو ورتول وي. د



خبرې او هوکړې وکړي. د مسئولینو په وینا، دغه سفر به د پانګونو جذب، د سوداګرۍ برخه کې د آسانتیاوو رامنځته کانونو او پترولیم وزارت ویاند همایون افغان ویلي، افغان پلاوي به هڅه وکړي ،چې د ازبیکستان پانګوال **۵مخ**

## په نورستان کې د ځایي تولیداتو درې ورځنی نندارتون پرانیستل شو

د نورستان ولایت په وایګل ولسوالۍ کې د ځایي تولیداتو درې ورځنی نندارتون پرانیستل شو ، یاد نندارتون د وایګل دکتیر الرشتوي تخنیکي او مسلکي زده کړو اداري له لوري د اداري او سوداګرۍ ځانګو زده کوونکو ته د سوداګرۍ په برخو کې د عملي تجربو په موخه پرانیستل شو، چې درې ورځې به دوام وکړي.په دغه نندارتون کې د یادې ولسوالۍ د بزګرانو او مالدارانو بېلا بېل تولیدات لکه پنیر، سوچه غوړي، عسل، کوچ، کورت، چهارمغز، لوبیا، الوګان، مڼې او جلغوزي نندارې ته ایښودل شوي دي.په ورته وخت کې د یادې ولسوالۍ بزګران او مالداران د دغه نندارتون په جوړېدو خوښ دي او له یادې ادارې د مننې ترڅنګ د ورته نورو نندارتونونو د جوړېدو غوښتنه



کوي، تر څو د ځایي تولیداتو لپاره ورته د بازار موندنې زمینه برابره شي.

## یو سوداګر له پاکستانه راتلونکو کډوالو ته ۳۰۰ جریبه ځمکه ورکوي

د افغانستان یوه ملي سوداګر حکیم الله نورزي له پاکستانه راتلونکو افغان کډوالو ته د اوسېدو لپاره خپله ۳۰۰ جریبه پلرنۍ ځمکه ځانګړې کړې ده. نوموړي ملي ټلویزیون ته ویلي، چې د ارزګان ولایت په خاص ارزګان ولسوالۍ کې یې دغه ځمکه د لسو کلونو لپاره راستنېدونکو کورنیو ته ځانګړې کړې ده. ده زیاته کړې، چې له نورو سوداګرو سره په ګډه پلان لري چې له پاکستانه راتلونکو کډوالو ته د پاکو اوبو او نورو اړتیاوو د پوره کېدو امکانات برابر کړي.

دا په داسې حال کې ده چې پاکستان د نوامبر په لومړۍ نېټه له دغه هېواده په رسمي ډول د بې اسناده افغان کډوالو د ایستلو لړۍ پیل کړې ده.

## چمن کې د سوداګرو او سیاسي ګوندونو پرلت لا هم دوام لري

د بلوچستان په چمن کې افغانستان ته د تګ راتګ پر لاره د پاسپورټ او ویزې د لازمي کېدو پر ضد پرلت شپاړسمې ورځې ته ورسېد. د سوداګرو ټولنې او سیاسي ګوندونو دا پرلت دوه اوونۍ مخکې پیل کړي او غوښتنه کوي، چې چارواکي دې د چمن او سپین بولدک ترمنځ پر دروازه خلکو ته د پخوا په شان پر پاکستاني شناختي کارډ او افغان تذکرې د تګ راتګ اجازه ورکړي. دوی وایي: له افغانستان سره پر پوله د تجارت او تګ راتګ لپاره د پاکستان د حکومت د پاسپورټ او ویزې لازمي کېدو شرط نه مني، ځکه چې په خبره یې له دې کار سره د سیمې زرګونه کسان بې‌روزګاره کېدای شي. په پرلت کې د لویو سوداګرو ترڅنګ



هغه مزدوران هم شامل دي چې پخوا به یې هره ورځ د چمن او سپین بولدک ترمنځ سامانونه لېږدول. دوی وایي، **۵مخ**

سه‌شنبه دربیع الثاني ۲۳مه ۱٤٤٥ ق کال | د لړم ۱۶ مه ۱۴۰۲ ل کال | دنوامبر۷مه ۲۰۲۳ م کال | خصوصي ګڼه ۱۶۹ مه | پرله‌پسې ګڼه۲۵۹ مه ،اتمه‌دوره




# د اوبو سپما؛ زموږ ستره اړتیا

اوبه او ژوند دوه داسې کلمې دي، چې لومړۍ یې د دوهمې د دوام لپاره اساسي شرط دی، چې اوبه نه وي ژوند نشته، اوبه یوازې د انسانانو نه، بلکې د ټولو ژوندي سرو او ان نباتاتو د دوام لپاره اړینه ماده ده. هغه څه چې په ژوند کې خورا زیات ارزښت او اهمیت لري، اوبه دي.

الله تعالی د انسانانو او نورو ژویو لپاره ډېره لویه او ښایسته دنیا پیدا کړې او د ټولو ژوندیو لپاره یې په کافي کچه اوبه هم پیدا کړي دي او وخت په وخت د بارانونو او واورو په بڼه داوبو سرچینې سرشارې ساتي. خو په دې وروستیو کې د پرمختګ او تمدن په نامه د انسانانو ځینې کړنې ددې لامل شوي، چې د اوبو او هوا مصؤنیت ته زیان ورسوي او په دې لویه او ښایسته دنیا کې ژوندیو ته ژوند سخت کړي.

د نړۍ د اقلیمي بدلون له امله زموږ ګران هیواد افغانستان هم اغېزمن شوی، اوس د هیواد په ډېرو سیمو کې د تېرو کلونو په پرتله هوا ډېره ګرمه شوې او د اوبو سطحه ډېره ټیټه تللې ده او که په وخت یې غم ونه خوړل شي، په راتلونکي کې له دې هم د سخت ناورین وړاندوینې شوي دي.

مهمه دا ده چې موږ څرنګه کولی شو اوبه وسپموو، له خپلو اوبو سالمه استفاده وکړو او د هیواد د اوبو مصؤنیت ډاډمن کړو؟

اوس چې د ژمي موسم راروان دی او په ژمي کې زموږ هیواد باندې ډېرې واورې او بارانونه کېږي، چې همدا د افغانستان د اوبو اساسي سرچینه ده او له بل هر موسمه د اوبو د سپما غوره فرصت دی، په دې برخه کې دې ملت او حکومت په ګډه داسې هڅې او کړنې وکړي، چې له امله یې نه یوازې د ځمکې لاندې اوبو سطحه لوړه شي، بلکې د ځمکې پر سر اوبه هم ډېرې او پرېمانه شي.

د حکومتي چارواکو لومړی مسئولیت دا دی، چې د خلکو ګڼ میشتو سیمو کې ، خلک د ژورو څاګانو له کیندلو راوګرځوي او پرځای یې هغوی ته د پاکو اوبو پر بدیلو لارو چارو تمرکز وکړي او په میاشتني ډول ترې د مصرف کړو اوبو قیمت واخیستل شي، په دې سره به نه یوازې تر ځمکې لاندې د اوبو مصؤنیت ډاډمن شي، بلکې له دې لارې به دولت ډېر عواید هم ترلاسه کړي.

بل دا چې د زراعت او کروندې لپاره باید له تر ځمکې لاندې اوبو څخه استفاده ونشي او پرځای یې د ځمکې پر سر رواني اوبه مهار شي، ستر او کوچني بندونه او کانالونه جوړ شي، چې ورسره به نه یوازې د هیواد ډېرې ځمکې د کښت او زراعت وړ وګرځي او غذایي مصؤنیت به رامنځته شي، بلکې د انرژۍ د تولید په برخه کې به هم هیواد پرځان بسیا شي، چې ورسره به اقتصادي وده هم چټکه شي.

په دې برخو کې د اسلامي امارت د چارواکو وروستۍ هڅې او کوښښونه د ستایلو وړ دي، چې په ډېر لږ وخت کې پر نړیوالو بندیزونو او فشارونو سربېره په خپله بودیجه ډېرې لاسته راوړنې لري، چې د قوشتیپې کانال یې ښه بېلګه ده، ددغې سترې ملي او حیاتي پروژې د لومړي فاز چارې نږدې پای ته رسېدلي او داسې انګېرل کیږي، چې کارونه یې همداسې روان وي له ټاکل شوي وخته وړاندې به یې کارونه بشپړ شي او د خوراکي توکو او اوبو د مصؤنیت په برخه کې به مثبت بدلون رامنځته شي.کابل ښاریانو ته د پنجشیر له سیند څخه د اوبو ورکړه او دغه راز د شاه او عروس بند د پاتې کارونو ترسره کول او د اوبو د سپما په هکله عامه پوهاوي هم د اسلامي امارت په لومړیتوبونو کې دي.

که په تېرو څلورو لسیزو کې د افغانانو د ژوند جګړه ییز تاریخ ته ځغلنده کتنه وکړو، زموږ په هیواد کې د پردیو نیابتي جنګونو عامل زموږ د هیواد ستراتیژیک جغرافیایي جوړښت او اوبه دي چې دلته د جنګ په دوام سره په خپلو هیوادونو کې زموږ له سرشارو سیندونو او اوبو څخه ګټه اخلي.

د نړۍ په ځینو کمزورو هیوادونو کې روان جنګونه چې اکثره یې په اسلامي ملکونو کې جریان لري د هغو هیوادونو طبیعي ذخایرو، تیلو او اوبو له امله دي چې نړیوال استعماري هیوادونه ترې ګټه پورته کوي.

# له پاکستان څخه د افغان مهاجرینو جبري راوېستل

**محمد حقمل**

له نن څخه څه د بره ۲۲ کاله وړاندې د امریکا تر قیادت لاندې د ناټو ائتلاف او د نړۍ د ۴۸ هیوادونو نظامي ځواکونو چې د ۲۱ مې پېړۍ پر مدرنو او عصري وسایلو سنبال وو، زموږ پر هیواد د یوې جعلي او پلان شوې دسیسې له مخې یرغل وکړ او دغه نا برابره جنګ دوه لسیزې دوام وکړ، چې په کې په لسګونو زره بې ګناه افغانان په شهادت ورسېدل. غاصبو غربي ښکېلاکګرو زموږ د هیواد ملي شتمني لوټ او تا لاکړه او وطن یې پرکنډوالو بدل کړ، چې بالاخره د افغاني مجاهدینو د مستحکم هوډ، سپېڅلي جهاد او کلک مقاومت په پایله کې چې د خپل وجود په غرښو او د فدایي حملو د تاکتیک په غوره کولو سره یې د یرغلګرو غربي ځواکونو له فولادي ټانکونو سره مقابله وکړه. دوه کاله وړاندې د وږي په نهمه اشغالګر ځواکونه زموږ له ګران او محبوب هیواد څخه تېښتې ته اړکړای شول ، تېښته سرونه زموږ له هیواده ووتل ، په نظامي ډګرکې له بشپړې ماتې سره مخ شول او په افغانستان کې اسلامي نظام حاکم شو. دغه نړیوال استعمار د اسلامي امارت پر خلاف پر نویو طرحو او پلانونو کار پیل کړی او د اسلامي نظام په مخکې خنډونه ایجادوي، چې په دې وروستیو کې له پاکستان څخه د افغان مهاجرینو جبري راوېستل یې هم د غربي استعمار یوه پلان شوې طرحه او دسیسه ده، چې له یوې خوا افغان حکومت د نړیوالو له لوري په رسمیت نه دی پېژندل شوی او له بل پلوه د افغانانو ملي شتمني هم د امریکایانو تر انحصار لاندې ده او همدارنګه هغه فقر او غربت چې د امریکایي اشغالګرو له لوري په میراث را پاتې دی ، بله ستونزه ده په داسې شرائطو کې چې افغان مؤمن او مېړنی ملت له ډول ډول ستونزو سره لاس اوګریوان دی، د میلیونونو افغان مهاجرینو هیواد ته راستنېدنه ، د هغوی ځای پرځای کېدنه ، هغوی ته اړینې مرستې رسول او د هغوی لومړني ضرورتونه رفع کول د افغان حکومت او ملت له توانه پورته کار دي، خو د اسلامي امارت چارواکو او افغان ملت د خپلو ورونو او هیوادوالو وطن ته د راتګ لپاره په پوره اخلاص او ایمانداری چمتوالی نیولی او د خپلو هیوادوالو د راستنېدو لپاره یې له پاکستان سره په بندرونو کې لازم سهولتونه او اسانتیاوې رامنځ ته کړې دي.



د عالیقدرامیرالمؤمنین شیخ الحدیث مولوي هبت الله اخندزاده (حفظه الله) د ځانګړي فرمان له مخې د رئیس الوزراء د اداري مرستیال مولوي عبدالسلام حنفي په مشرۍ کمېسیون جوړ شوی، چې په بنادرو کې راستېدونکو افغان مهاجرینو ته خپلې مرستې ورسوي او د چارو نظارت وکړي. له پاکستان څخه هېڅ ګیله نه لرو، ځکه چې پاکستان یو خپلواک هیواد نه دی، بلکې د بهرنیو په مرستو متکي او په نړۍ کې د غربي استعمار له اوامرو د سرغړونې جرئت نه لري.

دغه هیواد شاید د خپلو ناوړه اعمالو پایله پخپله هم وګوري. موږ خپل هیواد ته د خپلو ورونو د راتګ هر کلی کوو، لکه چې ما په خپل یو شعر کې ویلي دي.

**که هره ژبه وایي ،خو**
**زما د وجود غړي دي**
**بې له مهاجرو نه ملت**
**زموږ نیمګړی دی**
**خوښ به یو ،چې یو**
**ورور د بل ورور غېږې**
**ته راشي بیا**
**ورونه مهاجر د خپلې**
**مور غېږې ته راشي بیا**
**مایې ((سالمزیه)) د یو**
**والي ارمان کړی دی**
**بې له مهاجرو نه ملت**
**زموږ نیمګړی دی**

# یگانه راهی که میتواند ما را پیروز و کامیاب نماید وحدت و احترام به یکدیگر است

**مجتبی شکوری**

اسلام بر خلاف سایر ادیان (آسمانی و غیر آسمانی)بدون شک،دین اعتدال ،توازن ،صلح خواهی و میانه روی در همه شئون زنده گی است؛مسلمانان را به تامین صلح ،وحدت و احترام به یکدیگر، میانه روی به امور امر و از تشدد، کینه‌توزی،دشمنی، تلاس ،احتکار و سایر کار های ناروا نهی کرده است.چنانکه وقتی اسلام آمد،جهت و روش خود را توازن ، میانه روی ومتانت را در همه جنبه ها و زمینه ها قرار داد،توازنی که شایسته یک دین و پیام عمومی و همیشگی است.اسلام آمد تا همه نقاط زمین و دوران های تاریخ را فرا گیرد و برای همه نژاد ها گروه ها و افراد در شئون مختلف زنده‌گی برنامه ریزی کند،میانه روی نسبت به تمایل معنوی و نیازهای بدنی و میان انگیزه های دینی و خواسته های دنیوی و اعتدال میان فعالیت برای این دنیا و کوشش برای زنده‌گی در جهان دیگر. اسلام از مسلمانان خواسته است که در زنده‌گی انسانی کوشا و فعال باشند و در راه کسب و تحصیل علم و دانش شب وروز بکوشند ودر پرتو ان به آبادانی،ترقی و پیشرفت بپردازند و چرخش زنده‌گی را پیش برانند.اسلام از هر فرد می طلبد و می‌خواهد که در نقاط مختلف زمین به تلاش برخیزد و در جستجوی حقیقت و همزیستی مسالمت آمیزباشد و روزی حلال خود را با صداقت و راستی پیدا نماید و از احتکار،دروغ ،دست درازی به مال ،جان و آبروی دیگران بپرهیزد،به زراعت ،صنعت و یا کسب و کار های سودمند دیگری روی آورد و از آفریده گار هستی بخش خود نیز غافل نگردد و یا ضرورتهای بدن و خواهش های نفسانی باعث فراموشی نیاز های روح او نشوند.نباید بخاطر تمایل دنیای زود گذر به کارهای نا شایسته ، گمراه کننده ، ضد منافع وطن و ده ها عمل خلاف و منافع دینی بپردازد،از آخرت غفلت ورزد و خدا را از یاد ببرد و در نتیجه حقیقت و ماهیت خویش را فراموش کند.اسلام دین لح،برادری،همدلی،صداقت و راستی بوده و مردم را به اتفاق،اتحاد و راستکاری دعوت و از بروز فساد،دروغگویی،احتکار،خیانت،تجاوز به مال و غَصب دارایی های عامه در زمین بر حذر میدارد و کار های بهتر را اسلام خیر خوانده است.

مردم افغانستان شاهداندکه در طی بیست سال اشغال کشور ،منازعه،بمباردمان قریه ها و ت،قلدری،زورگویی،غصب ین های دولتی،فساداداری،فساد اخلاقی،رشوه،اختلاس تخابات تقلبی،وارد کردن مواد غذایی تاریخ گذشته،کشت و قاچاق موادمخدر،معتاد شدن بیش از سه میلیون تن از هموطنان ما به موادمخدر و سایر موارد دیگر دامنگیر افغانها شد و همچنان وضع زراعت،آبیاری،مالداری و صنعت کاملاآمختل گردید و بالاخره انواع مصیبت ها کشور را فرا گرفت آنهم از عدم اتحاد و عدم همبستگی ما افغانها، ولی باتاسف که بیرونی ها و اشغالگران خارجی سود جستند و از آن به نفع خویش استفاده ها نمودند،و به این ترتیب خسارات جبران ناپذیر جانی و هنگفت مالی را متقبل گشتیم.اما خوشبختانه با شکست امریکایی ها و همپیمانان شان نظام اسلامی در کشور به پیروزی رسید. خداوند متعال را شکرگزاریم که در تمام کشور امنیت و ثبات سراسری تامین شده و جزایر قدرت از میان برداشته شد از اینکه امروز نیروهای خارجی در کشور نمیباشند ، ملت افعان از مجاهدین امارت اسلامی سپاسگذار و خرسند است.حالا مردم افغانستان بالای جهان ،سازمان ملل متحد و سایر سازمان های بین المللی به ویژه کشور ها و سازمان های اسلامی صدا می کنند که امارت اسلامی افغانستان را منحیث یک نظام مشروع به رسمیت بشناسند، با آن تعامل مثبت نمایندو تمام تحریمات را از افغانستان بردارند.سرمایه های منجمد شده ملت افعان را آزاد ساخته و در ترقی اقتصادی و بازسازی افغانستان کمک و همکاری نمایند. همچنان یگانه راهی که می تواند ما را پیروز و کامیاب داشته باشد ،وحدت ،احترام به وحدت ملی ، منافع ملی و احترام به یکدیگر است.

# له نشه يي توکو سره رښتيني مبارزه او برياوې يې

عمر احمدي

دوه لسیزې وړاندې چې کله امریکا او ناټو د ټولو نړیوالو قوانینو خلاف پر افغانستان یرغل وکړ، پر نورو ناخوالو سربېره یې افغان ملت ته د نشه يي توکو د تولید او اعتیاد سوغات هم له ځان سره راوړ. د اشغال په ټوله کرغېړنه دوره کې افغانستان د نړۍ په کچه د نشه يي توکو له ټولو ستر تولیدوونکی هیواد یادېده او په دغې موده کې د مېرمنو او ماشومانو په گډون شاوخوا څلور میلیونه افغانان د نشه یي موادو پر استعمال روږدي شول.

دا هر څه اتفاقي نه وو، بلکې د یو منظم پلان له مخې د خپلو گټو لپاره کېدل او پر افغانستان د یرغل موخو کې یوه دا هم وه، چې امریکا په ډېره هوښیارۍ او مکر دلته د نشه یي موادو پراخ تولید وکړ او له دې درکه یې ټریلیونونه ډالره عواید ترلاسه کړل، خو افغان ملت ته یوازې نړیواله بدنامي او میلیونونه معتادین پر ځای پاتې شول.

پر افغانستان د اسلامي امارت له بیا واکمنېدو وروسته، پر اداري فساد او اقتصادي ستونزو سربېره د نشه یي موادو پراخ تولید او استعمال هم یوه ستره جدي ننگونه وه، چې اسلامي امارت ورسره مخ و، خو له نېکه مرغه چې اسلامي امارت په دې برخه کې قاطع تصمیم ونیوه، په ټول



هیواد کې یې د کوکنارو کښت غیر قانوني اعلان کړ او د هر ډول نشه یي توکو پر تولید، قاچاق او استعمال یې بندیز ولگاوه او د مخنیوي لپاره یې جدي گامونو پورته کړل. په همدې شپو او ورځوکې د ملگرو ملتونو له نشه‌يي توکو او جرمونو سره د مبارزې ادارې یو راپور خپور کړی ږ په دې راپور کې ویل

شوي، چې د تېر کال په اپریل کې د افغانستان د حکومت له خوا د نشه یي توکو د بندیز له کبله د کوکنارو کښت په سلو کې

۹۵ کم شوی دی. په دې راپور کې راغلي، چې د دوی د ارزونو پر بنسټ د افغانستان په ټولو برخو کې د کوکنارو کښت له ۲۳۳ زره هکتارو څخه لس زره اته سوه هکتارو ته راټیټ شوی دی. د ملگرو ملتونو له نشه‌يي توکو او جرمونو سره د مبارزې اداري د راپور له مخې؛ په افغانستان کې د نشه‌يي توکو د کښت له منع کېدو

وروسته، په ۲۰۲۳ م کال کې د کوکنارو کښت په سلو کې ۹۵ ته راټیټ شوی دی. همدارنگه د دوی سروې ښيي، چې په ۲۰۲۲

م کال کې د تریاکو حاصلات ۶۲۰۰ ټنه وو؛ خو په ۲۰۲۳ م کال کې یې حاصلات ۳۳۳ ټنو ته راټیټ شول. د نشه یي توکو په اړه د ملگرو ملتونو راپور هم د دې ښکارندویي کوي، چې افغان حکومت د نشه یي توکو پر ضد مبارز ه کې پوره رښتیني دی.

له بل لوري د نیشه یي توکو په وړاندې د امنيتي مېړنيو ځواکونو

مبارزه او د کوکنارو د کښتونو له منځه وړل، د مخدرو توکو د قاچاقبرانو او کاروباریانو نیول او د قانون منگولو ته یې د

سپارلو او ترخنگ یې د روږدو کسانو د راټولولو او درملنې په برخه کې هم د امنیتي ځواکونو هڅې، کړنې او بریاوې بې له شکه د قدر وړ دي، پاک الله (ج) دې لاهم دوی ته توفیق ورکړي، چې په ټوله کې د نشه یې توکو قاچاقبران، پلورونکې او کاروونکې د هیواد په هره سیمه او ښار کې چې شتون لري دوی

و نیسي او دقانون منگولو ته یې وسپاري، ترڅو له امله یې د ټولنې نظم او ثبات لا پسې خوندي کړای شي.

زعفران او د انجې بوټي کرل د کوکنارو پرځای غوره بدیل کښت هم بلل کېږي، چې له نیکه مرغه د دغه بدیل کښت کرکیلې ته هم یو څه پاملرنه زیاته شوې، لکه څنگه چې د روان کال په لومړیو کې د کرنې اوبو لگولو او مالدارۍ وزارت د مسئولینو له قوله ویل شوي ، چې په روان کال کې یې پر نږدې زر هکتاره ځمکه د انجې بوټي د کرلو بهیر بشپړ کړي دي ،چې گاونډي او د سیمې هیوادونه هم باید له اسلامي امارت او خلکو سره د کوکنارو دبدیل کښت په برخه کې په پرله پسې ډول لازمه مرسته او هراړخیزه همکاري وکړي، همداشان د اسلامي امارت مسئول ارگانونه هم باید د نیشه یې توکو دکښت د بندیدو ترخنگ د هغو بدیل کښت ته ځانگړې او جدي پاملرنه زیاته کړي او ترخنگ یې په هیواد کې د کرنیز بهیر پراختیا هم یولومړیتوب دی، ځکه چې په ټولیزه توگه د هیواد په سلو کې کابو اتیا سلنه خلک دکرنې، مالداري او بنوالۍ په چارو بوخت دي، نو په کارهم همداده چې د دې بهیر ودې اوپراختیا ته باید ډېره پاملرنه وشي او د افغانستان داسلامي امارت د مسئولو ارگانونو له لوري باید د هیواد په مرکز او ولایتونوکې قدرمنو بزگرانو ته د هراړخیزو آسانتیاوو پر برابرولو سربېره

په مناسبو وختونو کې د اصلاح شویو تخمونو او کیمیاوي سرې مرستې هم وشي ترڅغه چې له امله یې دوی له خپلې کرکیلې څخه پریمانه حاصلات، غلې او دانې ترلاسه کړي، چې له امله یې د دوی د اړتیاوو د پوره کېدلو ترڅنگ په هیواد کې هم غلې دانې پریمانه شي، نو د اسلامي امارت د لومړیتوبونو پراساس اړینه ده چې په ټولیزه توگه د هیواد په گوټ گوټ کې پر کروندگرو په مناسبو وختونو کې اصلاح شوي تخمونه، کیمیاوي سرې اولازم وسایل د اړوندو مسئولو مراجعو له لوري وویشل شي، ځکه چې له بزگرانو سره هر راز مرسته د دې سبب کېږي، چې هغوی په خپلو کروندوکې د حرام کښت یعنې د کوکنارو د کرکیلې پرځای حلال کښت ته مخه وکړي، لکه څنگه یې چې مخه کړې هم ده ،البته لازمه هم ده چې بزگران باید په آگاهانه توگه دې ته وهڅول شي ، ځکه چې نیشه یې توکې د یوخاموشه طوفان په څیر ټولنه له گواښ سره مخامخوي اودا هغه ناوړه پدیده ده ،چې په تدریج سره او بیا په ځانگړې توگه د ځوان نسل روغتیا او سلامتیا زیانمنوي او خوږ ژوند یې له اوږد مهاله رنځ، ناهیلي او مرگوني گواښ سره مخامخوي. البته دې ټکي ته مو هم باید پام وي، ۵مخ

## کډوال:

# حکومت دې موږ ته د سرپناه او کار زمینه برابره کړي

د اکتوبر میاشتې له پای ته رسېدو سره سم له پاکستان څخه د افغان کډوالو د اېستلو لړۍ په زور او جبر سره پیل شوه.د پاکستاني پولیسو له خوا د دوی پر کورونو چاپو، بندي کولو او لوټلو افغان کډوال دې ته اړ کړل چې یوازې خپل



سرونه خوندي وباسي.هېواد ته راستون شوي کډوال احمد وایي: شاوخوا ۱۵ کاله یې په پاکستان کې تېر کړي، خو په وینایې، له کړاوه خالي نه وو.دی زیاتوي ،چې

پاکستاني پولیسو د دوی پر کورونو چاپې وهلې، له کارځایونو یې بېول او په یو او بل نامه یې پیسې ترې اخیستې.نوموړي په پاکستان کې د څورېدو کیسه داسې کوي:(( کورونو ته راتلل، چاپې به یې وهلې، سړي به یې وړل، کور والا

به پاتې شوي. زه بندي شوی وم، اته میاشتې بندي وم، بیا یې باړر پاس کړم. دوه میاشتې پېښور کې وم، پېښور نه یې دې خو اته راواړولم. هلته مې ماشومان وو، څوک نه

و، چې رااېستلي یې وای. بیا لاړم، کور او سامان هر څه پاتې شول، پنځوس زره ۵۰۰۰۰ نه زیاتې پیسې نه پرېږدي.))شبر خان سره هم وایي، د ښځو په بتۍ کې یې ښځې وهلې چې پولیسو یې پر کور چاپه ووهله.د نوموړي په

خبره، د کور لوښي یې په نیمه بیه خرڅ کړل او یوه ورځ یې ورته وخت وټاکه، چې باید ووځي .نوموړي زیاتوي: (( بتۍ کې مې ښځې اچولې، نه یې پرېښودم،

ویل یې چې تر څو پیسې را نه وړې نشې تللی. بیا مې ضمانت ورکړ، بیا یې پریښودم. کرایه یې هم را نه کړه. تانه قرض کړه، بل نه قرض کړه، ټول سامان مو د کور خرڅ کړ. ځانته مې یو څه برابر کړل، داسې هلکان راسره شته چې یوه روپۍ هم ورسره نشته، په لاره کې روان و، جیټي روډ باندې یې ونیولو جیلم سره، دلته یې بیا رانه ۱۵ زره روپۍ واخیستې.))دغه کډوال چې د پاکستاني حکومت له خوا تر ډېرو ،څورولو وروسته هیواد ته راځي، هیله من دي چې دلته به یې لاسنیوي وشي.د دوی په خبره، دلته په راتگ خوښ دي، خو راتلونکي ته اندېښمن دي.دوی له اسلامي امارت څخه د کار روزگار برابرولو غوښتنه کوي. راغلي کډوال احمد یې په اړه وایي: ((دومره ځای پیدا شي چې د هغو وړو ماشومانو کار وشي ،چې هغوی ته تکلیف نه وي. له پرون راهیسې مې ډوډۍ ته زړه نه کېږي، په سر مې سخت درد دی. یو کار وي چې دومره سړی گټي چې ماښام یې سړي کور ۵مخ

# په ښارونو کې د مېرمنو پر تگ راتگ هېڅ محدودیت نشته

هغه خبرونه چې په دې وروستیو کې په رسنیو کې خپاره شوي ښیي، چې د امربالمعروف او نهي عن المنکر وزارت محتسبینو له موټر چلوونکو غوښتي، چې له محرم پرته ښځو ته په ښار کې په خپلو موټرو کې د تگ اجازه ورنه کړي.

یاد خبر هغه ښځې او نجونې سختې اندېښمنې کړې، چې له کوره بهر کار او یا مدرسې ته ځي.

د کابل ښار اوسېدونکې فاطمه محمدي وایي: دیني مدرسې ته ځي او که دا خبر رښتیا وي، نو هره ورځ ورسره څوک نشته چې مدرسې ته لاړه شي.

(( دا چې یاد وزارت وایي، ښځې باید له محرم سره په ښار کې سفر وکړي، رښتیا هم ستونزه ده، ځکه چې په ډېرو مواردو کې نارینه خپل کار او وظیفې لري او نه شي کولی،

چې له موږ سره هره ورځ یو ځای ته لاړ شي او بیرته مو کور ته راولي. داسې ښځې هم شته چې محرم نه لري او د خپل کور سرپرستانې دي.))




یوه بله مېرمن مریم چې په یوه دولتي دفتر کې په کار بوخته ده وایي: که ښځې له محرم پرته ښار ته تگ راتگ نه شي کولای او یا په موټر کې سفر ونه کړي، نو اړه به شي، چې د خپلې کورنۍ یو کس وزگار کړي، چې له دوی سره د کار تر ځایه ولاړ شي.

((رښتیا هم، که ښځو ته له محرم پرته په ښار کې دننه په موټرو کې د تگ راتگ اجازه ورنه کړل شي، دا به ډېره ستونزمنه وي، ځکه

ځینې ښځې محرم نه لري او یا هم د خپلو کورنیو نارینه یې په کار بوخت وي.))

خو، د امربالمعروف او نهي عن المنکر وزارت چارواکي دا خبره ردوي او وایي، دوی مخکې په یوه فرمان کې اعلان کړی و ،چې ښځې باید له محرم سره په هغو ۵مخ

# حقوق بین المللی دریاها

فریال «سیدزاده»

حقوق بین المللی دریا ها مجموعه قواعد و مقرراتیست که آزادی دریا ها را تضمین می کند که مربوط دریا ها میشود که از اهمیت والایی برخوردار است از جمله موضوعاتی بوده که همواره مورد کشمکش حکومت ها قرار گرفته بود که این اختلافات و کشمکش ها توسط این قواعد و مقررات بین المللی حل گردیده است.
اهمیت حقوق دریا ها بدون شک که بسته گی به اهمیت دریا ها خواهد داشت. در گذشته دریا ها و اقیانوس ها بیشتر به خاطر راه ارتباطی دارای اهمیت بودند ، اما امروزه با پیشرفت تکنالوژی و در نتیجه شناخت بیشتر از منابع دریا ها و توان بهره برداری از این منابع دریا ها از اهمیت خاصی برخوردار شده اند.
هدف از تحقیق در این موضوع بلند بردن سطح آگاهی و ایجاد یک آثرعلمی بوده وآگاهی رسانی به مردم جامعه جهت افزایش معلومات شان و بیان اهمیت حقوق بین المللی دریاها تامردم جامعه به اهمیت آن پی ببرند.
تحقیقی که در زمینه حقوق بین المللی دریا ها انجام داده بودم از روش کتابخانه یی استفاده کردم که با جستجو در کتاب ها مقالات علمی معاهدات بین المللی موفق شدم تکمیل شود.

حقوق بین الملل از اهمیت بسیار زیاد برخوردار است. چون با بوجود آمدن حقوق بین الملل کشمکش ها و اختلافات که بین دولت ها بود با وضع قواعد و مقررات حل گردید. حقوق بین الملل به موضوعات اساسی و مهم می پردازد که حقوق بین الملل دریا ها هم از جمله مباحث مهم حقوق بین الملل می باشد.
وقوع تحولات شگرف بین الملل تحرک قرآیند فناوری ارتباطی اقتصادی اجتماعی و سیاسی دریافت بازخورد های گوناگون و از همه بیشتر علاقمندی و کنجکاوی خودم باعث شد که در مورد حقوق بین المللی دریا ها کاوشگری خود را انجام دهم که اخیراً به چهار بحث نایل گردیدم.
تعریف حقوق بین الملل دریا ها
تحولات اولیه حقوق دریا ها
تدوین قواعد حقوق دریا ها

منابع حقوق دریا ها

امید است با مسایلی که در این راستا بیان شده تصویر جامع و حتی الامکان از حقوق بین المللی دریا ها به دست داده شود تا بدین طریقه انگیزه های لازم برای طرح پرسشهای اساسی در اذهان علاقمندان به این رشته مطالعاتی که منظور تحقیق کار های پژوهشی و تحقیقات جدی تر و موثر تر فراهم شود.

حقوق:حقوق از کلمه حق گرفته شده حق کلمه عربی است که به معنی راست،حقیقت،ضدبطل، امتیاز،صلاحیت میباشد
در اینجاحقوق به معنی مجموعه یی از قواعد ،مقررات لوایح، صلاحیت ها و امتیازات می باشد.
تعریف دریا: آبی که بسیار محوطه وسیع را فرا گرفته و به اقیانوس راه دارد را دریا گویند. مجموعه آب های شور که جز اعظم کره زمین را می پوشاند تقریباً سه چهارم حصه سطح زمین را در برگرفته و در نیمکره جنوبی بیشتر از نیمکره شمالی زمین را فرا گرفته است.
تعریف دریا از نظر جغرافیه دانان: دریا به مجموعه فضاهای آب شور گفته میشود.
تعریف دریا در حقوق بین الملل: در حقوق بین المللی این فضا ها به شرط ارتباط آزاد و طبیعی در سرتاسر کره زمین دریا تلقی میشود. لذا توده های آب شور بسته مانند دریای خزر و دریاچه های بزرگ شوره به لحاظ حقوقی نمیتوانند دریا باشند. اقیانوس ها در حقوق بین المللی در مفهوم دریا به کار میروند.
حقوق دریا ها یکی از شاخه های حقوق بین المللی است که مربوط به روابط بین المللی دولت ها یا سازمان های بین المللی در مناطق مختلف دریا هاست ولی حقوق دریا ها شاخه یی از حقوق خصوصی داخلی است که روابط اشخاص و کشور ها را در دریا ها و موضوعات مربوط به دریا ناظر و حاکم است.
از جمله موضوعاتی مانند: حمل و نقل دریا چه بیمه دریا و چه وضعیت حقوقی کشتی ها و ایمنی دریا ها اهمیت حقوقی دریاها حقوق دریا ها شامل تعریف آب های سرزمینی، حق دولت ها برای ماهیگیری و استخراج منابع از بستر اقیانوس ها و کنترول دریانوردی می گردد.
به طور کلی در خارج از منطقه یی که به نام آب های سرزمینی شناخته میشود اصل آزادی دریا ها حاکم است این به معنای آزادی ماهیگیری ناوبری تجاری و مسافرتی چه با کشتی و چه با هواپیما است همچنین شامل آزادی کشیدن خط لوله، آزادی تحقیقات علمی، آزادی احداث پایگاه های نظامی و حتی آزادی استفاده از اقیانوس به عنوان زباله دانی میشود.

تحولات اولیه: دریا ها با توجه به اهمیت شان همواره مورد کشمکش های دولت ها بوده اند. اما اوج این کشمکش ها در قرن ۱۵ با فرمان پاپ الکساندر٦ در سال ۱٤۹۳ آغاز میشود که جهان را بین اسپانیا و پرتگال تقسیم می کند و سایر دولت ها بدون اجازه اسپانیا و پرتگال نمی توانستند از دریا استفاده کنند. این عمل مورد اعتراض نماد های سیاسی انگلیس قرار گرفت که از اصل آزادی دریا ها (اصل آزادی دریا ها در برابر اصل حاکمیت بر دریا هاعبارت است از این که هیچ کشوری حق حاکمیت بر دریا ها را نداشته و همه کشور ها می توانند که از دریاها آزادانه استفاده کنند. مانند حق آزادی کشتیرانی یا آزادی بهره برداری از منابع دریا) دفاع میکردند.
اما با اضمحلال امپراتوری اسپانیا و پرتگال از قرن ۱۶ رفته رفته موضع انگلیس به سمت نظریه حاکمیت دریا ها تغییر کرد. به این صورت که دولت ساحلی تا آنجا که قدرت اش اجازه می دهد.
هوگو گوروتیوس (۱۵۸۳-۱٦٤٥)هالندی است که با تمسک به اینکه لازمه حاکمیت مالکیت است و چون دریا غیر قابل تمسک است هیچ کس حق حاکمیت بر آن را ندارد از اصل آزادی دریا دفاع می کند و نهایتاً در قرن ۱۸ با پیروزی اصل آزادی روابط دولت ها بر این اساس شکل می گیرد.
این روال تا تدوین مقررات عرضی ادامه می یابد.

تدوین قواعد حقوق دریا ها: چهار تلاش عمده در سطح رسمی برای تدوین قواعد حقوق دریا ها صورت گرفته است.
کنفرانس لاهه ۱۹۳۰- جامعه ملل در سال ۱۹۲٤ تشکیل کمیته یی از کارشناسان که ماموریت تهیه فهرستی از موضوعات آماده تدوین از جمله مسایل مربوط به حقوق دریا ها را نیز به عهده داشتند تدارک دید. منجر به تشکیل کنفرانسی در سال ۱۹۳۰ در لاهه در زمینه حقوق دریا ها شد که متاسفانه نتیجه یی جز اظهار امید واری در بر نداشت.
کنفرانس ۱۹۸٥- پس از تشکیل سازمان ملل متحد در سال ۱۹٤٥ نهادی با عنوان کمیسیون حقوق بین الملل (کمیسیون حقوق بین الملل: یکی از نهاد های سازمان ملل متحد در سال ۱۹٤۷ با تصویب قطعنامه ۱۷٤ توسط مجمع عمومی در راستای انجام وظایف سازمان در برابر ماده ۱۳ منشور سازمان ملل تدوین وتوسعه حقوق بین الملل تاسیس شد) در سال ۱۹٤۷ جهت تدوین حقوق بین الملل تاسیس شد.این کمیسیون اقدام تهیه پیش نویس مواردی در زمینه حقوق دریا ها نمود که شالوده کنفرانس ۱۹۸٥ در زمینه حقوق دریا ها بود. درکنفرانس ۱۹۸٥ چهار کنوانسیون تصویب شد.
۱- کنوانسیون دریای سرزمینی و منطقه مجاور
۲ـ کنوانسیون دریای آزاد
۳ـ کنوانسیون فلات قاره
۴ـ کنوانسیون ماهیگیری و حفاظت منابع زنده دریای آزاد
کنفرانس ۱۹٦۰ـ کنفرانس ۱۹۸٥ اگر چه موفق به تصویب کنوانسیونی با عنوان دریای سرزمینی شد اما نتوانست مهمترین مسئله یعنی عرض دریای سرزمینی را تعیین کند. لذا در سال ۱۹٦۰ دومین کنفرانس ملل متحد در مورد حقوق دریا ها تشکیل شد که به دلیل تعارض دیدگاه های بدون نتیجه به کار خود پایان داد.
کنفرانس ۱۹۸۰- به دلیل حضور دولت های جدیدالاستقلال در سازمان ملل که در کنفرانس ۱۹۸٥ دخیل نبوده اند و عدم پیش بینی منابع معدنی موجود در بستر دریا ها در کنفرانس ۱۹۸٥ به خاطر عدم شناخت این منابع و نداشتن دانش فنی برای بهره برداری از آنها و پاسخگو نبودن کنوانسیون های موجود در برابر آلوده گی های زیست محیطی و نامعین بودن عرض دریای سرزمینی نهایتاً به دنبال پیشنهاد آروید پاردو سفیر مالت در سازمان ملل متحد که وی در اعلام بستر اعماق دریا ها و منابع آن به عنوان میراث مشترک بشریت . بستر اعماق دریا و منابع آن را شامل می شود که کشور های بهره بردار از منابع این منطقه باید سالانه درصدی از درآمد خود را به صندوقی برای کمک به کشور های بدون ساحل و کشور های فقیر بپردازند.
در سال ۱۹٦۷ کمیته ویژه بستر دریا ها توسط مجمع عمومی سازمان ملل متحد تشکیل شد که اولین جلسه کنفرانس برای این موضوع در سال ۱۹۷۳ و پس از آن هر سال چند ماه به کار خود ادامه داد تا درسال ۱۹۸۲ کنوانسیون جامع از قواعد اساسی حقوق دریا ها را به تصویب رساند. یکی از مناطق دریایی که دولت های ساحلی حاکمیت خود را بر آن اعمال می کنند اگر چه حقوقی نیز برای سایر کشور ها در نظر گرفته شده است که از لحاظ شمولیت اعضا و موضوعات از جایگاه خاصی برخوردار است.

منابع حقوق بین المللی دریا ها: حقوق دریا ها از شاخه های حقوق بین الملل عمومی است که به موضوعات مربوط به دریا ها می پردازد.
منبع اصلی این شاخه از حقوق کنوانسیون ملل متحد در مورد حقوق دریا ها مصوب ۱۹۸۲ است. این قرار داد به نام قانون اساسی دریا ها معروف است و تا فبروری ۲۰۰۹ بیش از ۱۵۷ کشور به آن پیوسته اند. حقوق دریا ها به ایجاد گوناگون حقوق بین المللی دریا ها از دیدگاه معاهدات و عرف و رویه قضایی بین المللی از جمله با بررسی کنوانسیون ۱۹٥۸ راجع به دریای آزاد کنوانسیون ۱۹۸۲ حقوق دریا ها و رویه کشور ها و نیز رویه قضایی دیوان داوری و دیوان بین المللی حقوق دریا ها پرداخته و عملکرد نهاد های بین المللی چون مقام بین المللی اعماق دریا ها را نیز مورد بررسی قرار داده است.
پس منابع حقوق دریا ها شامل :
معاهدات: مفهوم معاهده حد اقل دارای دو نوع معنی لغوی و اصطلاحی میباشد. از نظر لغوی معاهده به معناهای چون عهد و سوگند و شرط به کار رفته است. اما از نظر اصطلاحی و بر اساس آنچه که در ماده دوم کنوانسیون ۱۹٦۹ وین بیان شده است معاهده عبارت است از: قرار داد مکتوب است که بر اساس توافق میان دولت ها شکل گرفته و تعهدات ناشی از آن تابع حقوق بین الملل میباشد.
عرف:عبارت است از رویه و طرزالعمل هر کشور به صوررت فعل یا ترک فعل که در آن کشور در مناسبات خود با کشور های دیگر اعمال میکند و این قاعده بدنبال تکرار رفتار های یکسان شکل گرفته و ایجادالتزام کرده است.
عناصر تشکیل دهنده عرف عبارت اند از:
۱ـ عناصر مادی: یعنی طرز عمل کشور ها به صورت مکرر یا ترک آگاهانه متحدالشکل.
۲ـ عنصر معنوی: یعنی اعتقاد به الزام آور بودن.
رویه قضایی بین المللی یا تعمیات قضایی:نکته مهمی که باید مورد نظر قرار داد تفاوتی است که بین رویه قضایی و تعمیات قضایی وجود دارد. در یک دیدگاه کلی واضح است که به یک رای نمیتوان وصف رویه قضایی بین المللی داد چرا که رویه قضایی واجد دو عنصر مهم و حیاتی مادی و معنوی میباشد. در واقع رویه یی قضایی به معنی اتخاذ روش و شیوه یکسان در قضایای شبیه به یکدیگر است که دیوان ملزم به تبعیت از آن باشد.
رویه قضایی در نظام های حقوقی مطرح جهان دارای اهمیت متفاوت است و در نظام بین المللی نیز به عنوان منبع حقوق مورد توجه است.
ماده ۳۸ اساسنامه دیوان بین الملل دادگستری به تعمیات قضایی بین الملل اشاره کرد.




نتیجه گیری...
حقوق بین الملل دریا ها از حقوق مهم و پر اهمیت از لحاظ اقتصادی اجتماعی و سیاسی میباشد. دریا ها از طول تاریخ تا به اکنون همیشه مورد اختلافات و کشمکش های دولت ها قرار گرفته است ،اما در چندین دهه اخیر با بوجود آمدن حقوق بین الملل این اختلافات تا حد بسیار زیاد با وضع قواعد و مقررات انتقاد معاهدات بین کشور ها حل گردیده است.
این قواعد مقررات و معاهدات آزادی دریا ها را تضمین می کند که دریا مالکیت معین هیچ کس نمی باشد. دریا ها بهترین منبع اقتصادی از لحاظ راه عبور و مرور منابع دریا استخراج سنگ ها و غیره به اهمیت دریا ها افزوده است. لذا فرضیه یی را که در ابتداء تحقیق خود ارایه کردم درست بود. پس حقوق دریاهای بین المللی مجموعه یی از قواعد و مقرراتیست که مربوط دریا ها بوده و آزادی دریا ها را تضمین می کند.

منابع...
کتاب حقوق بین المللی عمومی۱
۲ـ سایت پژوهه بر گرفته از مقاله( آزادی دریاها)
۳ـ سایت راسخوان
۴ـ موسسه فرهنگی انتشاراتی طرح نوین.

### له نشه يي توکو ...

سره لـه دي ،چـې مخدر توکې يوه ناوړه پديـده ده، خو دريغا چې زموږ ګڼ شېرهيوادوال هم پردغي کرغېړني پديدي روږدي شـويدي چې د امنيتي ننګونو ترڅنـګ دايوه بله سـتونزه ده ځکه چـې پـر مخدروتوکو روږدي کسان سربېره پردي چې د سالم کار او روزګار پر وړاندي خپل مقاومـت او ځواکمنتيا له لاسه ورکوي ترڅنګ يي خپلي کورنۍ ته يـو سرخوږي هم را منځته کوي او بالاخره پرمخدرو توکو روږدي کسـان پر خپلې کورني سربېـره پرټولنه هم يو بـار ګڼل کېږي او پـه بېلا بېلو برخوکې د ټولني عامه نظم ګډوډ اوبې ثباته کوي، نوپردي اساس د دي نـاوړه پديدې پر وړاندې د اسلامي امارت د امنيتي ځواکونو ترڅنګ د افغان ولس د رښتيني مبـارزې دوام هم ډېـر اړين او ضروري دی . اوس غوښـتنه داده چې د نشه يي توکو پر ضد مبارزه کې د عامه پوهاوي لپاره رسـنۍ، ديني عالمان، ښوونکي او نور پوهان خپل رسـالت ادا کړي او ملت د نشه يي موادو د استعمال او توليد له زيانونو خبر کړي .

### حکومت دې موږ ته ...

ته راوړي. دا زموږ غوښـتنه ده، چې لـږ کومک وکـړي، دا را روان ژمـی چې ډېر به سـخت وي، نه کور کې کوټه شته او نه د سر پټوني ځای شته چې سر په کې پټ کړو))د ننګرهار د کار او ټولنيـزو چـارو رئيس فريد احمد حقاني بيـا راغلو کډوالو ته د کاري زمينې د برابرولو ډاډ ورکوي، نومـوړي وايي: راغلو کډوالو تـه پام کـې لري چې د حرفـوي زده کـړو ترڅنګ هغوی تـه واړه کاروبارونه هم برابر کـړي.(( هغه کډوال چې راغلي دي هغوی هم له ستونزو او مشـکلاتو سره مواجه دي، هغوی ته مو پـه فني، حرفوي په برخه کې، همدارنګه د وړو کاروبارونو ترتيب مو ورته کړی او راغـلي هيوادوالو تـه دا ډاډ ورکوو، چې دا پروسـه جريان لري))د مسؤلينو په خبره تر دې دمه د دوه سـوه زرو په شاوخوا کې را ستيدونکي افغانان يوازې د تورخـم له لارې هېـواد ته را سـتانه شـوي او دغه لړۍ دوام لري .

### په ښارونو کې ...

۵مخسـفرونو کې چې له ۷۲ يا ۷۸ کيلومتـرو څخه زيات وي، سفر وکړي او په ښار کې دننه د حجاب په مراعاتولو سره ښځينه کـولای شي ازاد تـګ راتګ وکړي.ددغه وزارت وياند محمد صديق عاکف مهاجر کليد راډيو ته ويلي، په دې وروستيو کې په دې اړه کـوم فرمان نه دی صادر شوی او پخوا هم د ښاري بسونو چلوونکو ته سپارښـتنه شوې وه، چې په بسـونو کې د ښځو او نارينه وو د اختلاط مخنيوی وکړي او له حجاب پرته ښـځو ته د سـفر اجازه ورنه کړي. (( نږدې يو کال وړاندې د ښـځو د جامو د څرنګوالي په اړه فرمان صادر شوی و او په ورته وخت کې موټر چلوونکو ته ويل شوي وو، چې په خپلو موټرو کې دې له حجاب پرته ښـځو ته د تګ اجازه نـه ورکـوي او د محرم موضوع داسـې ده چې ښـځې بايد له هغو سفرونو چې فاصله يې له ۷۲ څخه تر ۷۸ کيلومټرو زياته وي، بايد له محرم سره سفر وکړي او په ښار کې دننه داسې څه نه شته.))له دې وړاندې هم د ورتـه محدوديتونـو په تړاو راپورونـه خپاره شـوي، خو د امربالمعروف او نهي عن المنکر وزارت له خوا رد شوي دي.

### افغانستان او ازبيکستان د...

د افغانستان کانونو کې پانګونې ته وهڅوي. په ورته وخت کې د وسـپنې پټلۍ اداري مسئولين وايـي، د دې وزارت يـو پلاوي ورمـه ورځ لوژسـتيکي او ترانسپورتي ننداريتون کې د ګډون لپاره ازبيکستان ته تللی دی.

### د تورخم اساسي ...

عصبـي جراحـي، ارتوپيډي، راډيولوژي، لابراتوار او د مور او ماشوم اړوند روغتيايي خدمتونه په کې ترسره کېږي.

### مزارشريف ښارکې ...

رغول کېـږي. نوموړي زياته کړې، چې هڅه کوي د ژمي له راتګه مخکې د مزارشريف ښار تخريب شويو سيمو ته پوره پام وکړي.

### چمن کې د سوداګرو ...

د ټولو سياسي ګوندونو له ملاتړه برخمن دي او زياتـوي ،چې د غوښتنې تر منل کېدو پورې خپل احتجاج ته دوام ورکوي.

### د اسلامي امارت ...

اقتصادي مرستيال د خپلو خبرو پر مهـال وويـل: د شـل کلن امريکايي اشغال له پای ته رسېدو وروسته افغانستان په خپلو ټولو چارو کـې خپلـواک دی او د خپلو اسـلامي او ملي ارزښتونو په پام کې نيولو سره له ګاونډيو، د سـيمې او نړۍ هيوادونو سره تعامل ته را وړاندې شوی دی. د ملا صاحب په خبره، اوسمهال په افغانستان کې په بشپړه توګه سـياسي، امنيتـي او اقتصـادي ثبات رامنځته شوی او يو باثباته افغانسـتان د ګاونډيو، سيمې او نړۍ د هېوادونو پـه ګټه دی.د رياستالوزراء اقتصادي مرستيال د خپلو خـبرو پر مهال وويل: د افغانستان اسلامي امارت د خپل اقتصاد محوره بهرني سياسـت پر بنسـټ غواړي چې د ايران اسـلامي جمهوريت سره خپلې سـياسي، اقتصادي، ترانزيتي او سـوداګريزې اړيکـې پراخې کړي.د ايران د ولسمشر مرستيال ښـاغلي محمـد مخـبر د خپلو خبرو پر مهال وويـل: ايران له افغانسـتان سره د خپلو اړيکو پراخولو ته ليوال دی او غواړي چې د دواړو هېوادونو ترمنځ د سياسي، اقتصادي، سوداګريزو او ترانزيتـي اړيکو د پراخولو او د دواړو هېوادونو د ملتونو د هوسايني لپاره په مشترکه د لارې نقشه جوړه کړي. ښاغلي محمد مخبر زياته کړه، دواړه هېوادونه بايد په ګډه د شـويو معاهداتو تطبيق ته ژمن و اوسي، په ګډه د چاپېريال ساتنې او په ځانګړي ډول د وچکالـۍ او د اوبـو د مديريت په اړه کار وکړي.

د ايران د ولسـمشر مرسـتيال د رياستالوزراءله‌اقتصادي‌مرستيال سره په ليدنه کـې وويل، ايران چمتو دی چې لـه چابهار بندر څخه د افغانسـتان په صادراتو او وارداتو کې د پام وړ زياتوالي راشي. نوموړي همدا راز وويل، ايران چمتـو دی چې د کرنې او صنعت په برخه کې له پرمختللې ټکنالوژۍ د اسـتفادې په برخه کـې لـه افغانسـتان سره پوره همکاري وکړي. ايـراني لوري ټينګار وکړ، دواړه هېوادونه بايد د سـوداګرۍ پر مهال له خپلو ملي کرنسيو استفاده وکړي او د سـوداګرۍ او ترانزيټ کچې د زياتولو پـه موخه اړينه ده چې لويې لارې او سړکونه په اساسي ډول جوړ شي.د رياسـتالوزراء اقتصادي مرسـتيال محترم ملا عبدالغني برادر اخوند په ايران کې د مېشـتو افغـان کډوالو د کوربهتوب لـه امله لـه ايران څخه مننه وکـړه او هلته يې له افغان کډوالو سره د ښـه چلند او د هغوی ستونزو ته د رسېدو غوښـتنه وکړه.د دغې ليدنې پر مهال دواړو لورو په فلسطين کې د اسرائيلو د ظالم رژيم له لوري ترسره شوي جنايتونه په کلکه وغندل او له اسـلامي نړۍ يې غوښتنه وکړه څو د دغه وحشت پـه اړه نور پټه خوله پاتې نشي. همدارنګه:د افغانستان د اسلامي امارت د رياستالوزراء اقتصادي مرسـتيال ملا عبدالغنـي برادر اخونـد ايران ته د خپل رسـمي سـفر په ترڅ کې د ياد هيواد د کورنيـو چارو لـه وزير احمد وحيـدي سره وکتل.دغه ليدنه د ايران د کورنيو چارو وزارت کې ترسره شوه چې له ملا عبدالغني بـرادر اخونـد سره د اسـلامي امارت يوشـمېر وزيرانـو او د وزارتونو باصلاحيته استازو هم ګډون پکـې درلود.د غونډې په پيل کې د رياستالوزراء اقتصادي مرسـتيال ملا عبدالغنـي برادر اخوند د ايران دولت له همکاريو څخه مننه وکـړه او ويې ويل، چې د ايران دولت تل په سختو شرايطو او حوادثو کې د افغانانو لاسنيوی کړی او همدا اوس هم زموږ د ميليونونو افغان کډوالو کوربه دی.ملا صاحب همدا راز د خپلو خبرو په دوام وويل، نن ښه فرصت برابر شوی څو دواړه دوست هيوادونه په اقتصادي او امنيتي برخو کې خپلو همکاريو ته دوام ورکړي، ځکه يو باثباته او پرمختللي افغانسـتان د سيمې او نـړۍ پـه ګټـه دی. د دغې ليدنې پر مهال د رياسـتالوزراء اقتصادي مرستيال له ايراني لوري وغوښتل ،څو په دې هيواد کې د بېلابېلو سپکو جرمونو په تور افغان بنديان خوشي او پاتې نور افغـان حکومت ته وسـپاري. دغه بنديان به د بند پاتې وخت د افغانستان په زندانونو کې تېر کړي.ملا عبدالغني برادر اخوند د خپلو خـبرو پـه دوام زياته کړه، اسلامي امارت د افغانستان د اقتصادي وضعيت د ښـه والي لپاره هڅه کوي ، ترڅو افغانان په خپل هيواد کې با عزته ژوند ولـري او په خپل هيـواد کې د خپلو هيوادوالو د خدمت جوګه شي.ملا صاحب د يادې ليدنې پر مهال له مخدرو توکو سره مبارزه د افغانسـتان د اسـلامي امارت لومړيتوب وباله او زياته يې کړه، چې اوسمهال په افغانستان کې د نشهيي توکو کښـت او قاچاق صفر تـه راټيټ شـوی.د دغې ليدنې پر مهال د ايران د کورنيو چارو وزير ښاغلي احمدوحيدي افغان پلاوي ته ښـه راغلاست وويـه او زياته يـې کړه، چې نن له ټولو ښـه فرصـت برابر شوي څو ايران او افغانستان په اقتصادي، سوداګريزو او نورو برخو کـې له شـته فرصتونو په ښه توګه اسـتفاده وکړي. د نوموړي په خبره، ايران له خپلې خـاورې د افغـاني محصولاتو ترانزيټ ته لومړيتوب ورکوي، څو د افغانستان په صادراتو کې زياتوالي راشي. ښـاغلي وحيدي همدارنګه د افغاني محصولاتو لپاره ايـران د يو نړدې او ښـه مارکيټ په توګه ياد کړ او زياته يې کـړه، چې افغـان لوري دې خپل محصولات لـه ايران سره په دغه هيواد کې د بازارموندنې په موخه شريک کړي، څو په ايران کې ورته د خرڅلاو ښـه فرصتونه برابر کړي.

د ايـران د کورنيو چـارو وزير ښاغلي وحيدي همداشان په ايران کې د افغان کډوالو مېشت کېدل د ايران لپاره يو ښه کاري فرصت ياد کـړ او زياته يې کړه، چې د افغان کډوالو د لا ښه انسجام او د هغوی ستونزو ته د رسېدو په موخه د دواړو هيوادونو له لوري يوه مشترکه کمېټه جوړه شي.

ښاغلي وحيدي د خپلو خبرو په دوام وويل: د سرحداتو پياوړتيا، ددواړو هيوادونو ترمنځ مشترک بازار، د مخدره توکو پر وړاندې مبـارزه، د سرحـدي پوسـتو پياوړتيا، دسوداګرۍ او ترانزيټ پراختيا او په سرحدي سيمو کې د دواړو هيوادونو د ګړو د ژوند ښـه والي د ايران لومړيتوب دی او ټينګار يې دا دی چې په يادو برخو کې د اسـانتياوو رامنځته کولو پـه موخه پرلهپسـې او مؤثرې هڅې وکړي.

د دې ناسـتې پـه تـرڅ کـې همداشـان له چابهار څخه تر نيمروز، هلمند او کندهار پورې د رېل پټلۍ پر جوړېدو، افغان محصلينـو ته د زده کړو د ښـه فرصت پر ايجاد، د افغانسـتان له لارې لـه چـين سره د ايران اتصال او د افغانسـتان له لارې ازبيکستان د ايران په واسطه له عمان بحيرې سره نښـلول هغه موضوعـات وو، چـې په دغې غونډه کې پرې بحث وشو.ايراني لوري د افغانستان له لارې له چين سره پر وصلېدلو ټينګار وکړ او دا چاره يې د دواړو هيوادونو په ګټه وبللـه. ملا صاحب هم دې موضوع تـه د اهميت ورکولو او د کار ګرندي کولو ډاډ ورکړ. دغـه راز: د رياسـت الـوزراء اقتصادي مرستيال ملا عبدالغني برادر اخوند ايران ته د سـفر په ترڅ کې د دې هېواد د ملي امنيت عالي شـورا له رئيـس علي اکبر احمديان سره وکتل.دواړو لورو د دغې کتنې پر مهال پر سياسي او اقتصـادي اړيکـو سربېره د دواړو هيوادونو ترمنځ په سرحد کې پر ښـې همغـږۍ، د اوبو مديريت، ترانزيټ او د ايران له لارې د افغانسـتان د صادراتو او وارداتو د زياتوالي په اړه بحث او خبرې وکړې.د رياست الوزراء اقتصادي مرسـتيال په دې کتنه کـې د دواړو هيوادونو اړيکو ته پـه اشـارې سره وويل ،چې افغانستان او ايران تل په امنيتي، سـياسي او اقتصادي برخو کې ښې او دوستانه اړيکې لرلې دي، چې د تېرو دوو کلونو پر مهال د يادو اړيکو د پياوړتيا او پراختيا لپاره په ګډه ډېرې هڅې شـوې دي او دا هڅې لا هم دوام لري.د نوموړي په خبره، افغانسـتان او ايران خپل ستراتيژيک موقعيت ته په کتو سره دوه ښه اقتصادي شريکان جوړېدای شي او اړتيا ده، چې د دغې موخې ترلاسـه کولو لپاره دوه اړخيزې همکارۍ لا زياتې او تخنيکي ټيمونه ګډ کار وکړي.ملا عبدالغني برادر همدارنګـه له ايران اسـلامي جمهوريت څخـه د کډوالو د کوربه توب له کبله منته وکړه. په ورته وخت کې د ايران د ملي امنيت عالي شـورا رئيس په دې کتنه کې ددواړو هيوادونو ترمنځ پـه بېلابېلو برخو کـې د ګډو همکاريو پر زياتـوالي ټينګار وکړ او د افغانسـتان د رياست الـوزراء اقتصادي مرسـتيال ته يې په ايران کې د مېشـتو افغان کډوالو سـتونزو ته د رسېدو او له هغوی سره د ښـه سلوک په اړه ډاډ ورکړ.نوموړي همدارنګه د ترانزيـټ موضوعاتـو ته په اشـارې سره وويل: (ايـران او افغانستان د چين د يو کمربند او يوې لارې په پروژه کې ډېر مهم رول لري، چې چين د افغانستان له لارې ايران، عراق، سوريې او د مديترانې سمندر سره نښلولی او اروپا ته رسولی شي).د ناستې په پای کې پرېکړه وشـوه، چې دواړه هيوادونـه بايـد له راغلي فرصت څخه په ښـه توګه ګټه واخلي او چـا ته اجـازه ور نه کړي، چې د ايران او افغانستان اړيکو ته زيان ورسوي.

### د پاکستان حکومت ...

هغوی شـتمنۍ لوټي.نوموړي همدا راز وويل چې پاکسـتان دې خپلـې کورنۍ شـخړې په خپله حل کړي او د خپلې هرې سـتونزې پړه دې پر افغانانو نه اچوي.ستانکزي په ياد کنفرانس کې د اقتصادي پرمختګ لپاره په هيواد کې د نارينه وو او ښځينه وو تعليم مهم وبالـه او يو ځل بيـا يې وويـل: زده کړې د ټولو افغانانو شرعي او طبيعي حق دی، چې دروازې يې بايد ژر پرانيستل شي.د يادونې وړ ده چې د بهرنيو چارو وزارت سـياسي مرستيال له دې وړاندې هم د ښځو تعليم مهم بللې و او غوښـتنه يې کړې وه ،چـې هر څـه ژر د دوی پر مخ د ښوونځيو او پوهنتونونو در وازې پرانيستل شي.

### سړ کال په کابل ...

د سړک جوړوني د شپږو سترو پروژو کار پيـل شي.په همدې حال کې د ښـاري چارو کارپوه ډاکټر اقبـال وايي ،چې په تېرو دوو کلونو کې د کابل ښاروالۍ پـه اداري کارونـو کـې ډېـر بدلونونه راغلـی دی. له همدې امله ډېرې پروژې چې په عمده توګه د مديريت له خوا پيل شوې په کابل ښار کې پيل شوي. ښاغلي اقبال زياته کړه ،چې په تېرو دوو کلونو کې د کابل ښار د ((ښاري ترافيـک او ګڼې ګونـې)) په کمولو کې د سـړکونو جوړول او د دې سـړکونو په اوږدو کې د پلورونکـو تګ راتګ ګټور تمام شوي دي.دغه ښاري کارپوه همدارنګـه زياته کـړه، چې د کابل ښاروالۍ دندې که څه هم په تېرو دوو کلونو کې د قناعت وړ وې؛ خو په دغه ښـار کې د زيات نفوس له امله د دې رياست لپاره د ټولو چارو سمبالول ډېر سـتونزمن دي. خو د کابل ښار يو شمېر ښاريان د کابل ښاروالۍ له دوه کلنو دندو د خوښـۍ په څرګندولـو سره وايي، چې په کابل ښـار کې ګڼې پروژې په ځانګـړې توګه د سـړکونو د جوړولو چارې پيل شـوې، چې ګټورې تمامې شوې دي. د کابل ښـار يو تن اوسېدونکي عباس وايي: ((ښاروالۍ په دوو کلونو کې ډېـر کارونه کـړي او ډېر سړکونه يې اسفالټ کړي او موږ له کارونو راضي يو.))د کابل يو بل اوسېدونکي حفيظ الله وايي، چې په تېرو دوو کلونو کې ډېر سړکونه جوړ شوي دي. نوموړي لـه چارواکـو غـواړي ،چې د غير پلان شـويو سيمو لپاره هم اغېزمن پلانونه ولري. د يادولو وړ ده چې په افغانسـتان کې د اسلامي امارت له تسلط وروسته که څه هم په پلازمينه کې ګڼې پروژې په لاره اچول شـوي دي ،خو د کار نشتوالي د هيوادوالو په ځانګړې توګه د ځوانانو پر وړاندې يوه له لويو ننګونو څخه شمېرل کيږي.

### د لغمان لرې پرتو سيمو کې ...

روغتيايي مرکز ته هره ورځ ګڼ شـمېر نارينه او زنانه ناروغان د درملنـې په موخـه ورځي.د دې سيمې اوسـېدونکي وايي: د روغتيايـي مرکز په جوړېدو سره يـې په روغتيايي برخه کې ګڼې سـتونزې حل شـوي او د ناروغانو درملنه يې سيمې ته په نږدې روغتيايي مرکز کې ترسره کېږي.عمر خوږلي سـمندر بابا ،چې د منګو سيمې اوسيدونکي دي، بدن يې سړې هوا او ګردونو ډېر کمزوري کړي، امسا په لاس ياد روغتيايي مرکز ته د درملنې په موخـه راغـلي دي د ولايتي اداري او عامې روغتيا رياسـت څخه منته کوي، چې روغتيايي مرکـز يـې ورته جـوړ کړي دي.ورته وخت کـې د لغمان د عامې روغتيا رياسـت مسئولين وايي ،چې روغتيايي برخو ته يې پاملرنه زياته کړې او د اسلامي امـارت لـه راتلو وروسـته يې لسګونه روغتيايي مرکزونه په لرې پرتو سيمو کې جوړ کړي او لا هم هڅه کوي ترڅو د ولايت ټولـو خلکو ته سـم روغتيايي خدمات ورسوي.

### د بغلان په دو آبي ...

سره د نري رنځ پېښـې مالومې کړي.ملنـګ زياته کړه، چې د خوست ولسـوالۍ د دو آبي دغه جامـع روغتيايـي مرکز، چې اوس پکـې جن اکسـپرټ هم نصب شـو ۱۸۰ زره کسانو ته روغتيايي خدمتونه وړاندې کوي او په بغلان ولايت کې دا څلورم روغتيايي مرکز دي، چې د جن اکسپرټ ماشـين پکې د عامې روغتيا رياسـت په هڅو د پلي کوونکي (AKHS-A) موسسې له لوري نصب او فعال شـو.د يادولو ده چې له دې وړاندې په دې ولسوالۍ کې د جن اکسپرټ ماشـين نـه و او د نـري رنځ د تشخيص لپاره روغتيايي مسئولين اړ وو، چـې د ناروغانـو بلغم د تشخيص لپاره نورو ولسواليو ته ولېږي.

### لغمان کې د درېو ...

د کرنيز اقتصاد برخې متخصص بريـالي همـدرد وويـل: ((د سړوخونو په جوړولو سره به د لغمان کرنيز محصولات وساتل شي او هغه وخـت کې به چې ورته ضرورت پيښ شي، بېرته به بازار ته عرضه شي او په مناسب قيمت به وړاندې کېږي.»د لغمان د کرنې، اوبولګولو او مالدارۍ رئيس محمدولي محسـن وايي، چې د دې سړوخونو په جوړېدو سره به لغمان په کرنيزه برخه کې پر ځانبسيا شي. ((هغه دهقانان چې غريب وو او حاصلات به يې پـه ډېر کم قيمت خرڅېدل چې د هغوی هغه مصارف به يې هم نه پـوره کول او چې کله به د سبزيجاتو ضرورت زيات شو، نو بيا به راوارد شوي سبزيجات دلته پـه لوړ قيمـت خرڅول کېدل.»د لغمان اوسېدونکي او بزګران خـوښ دي چې د دوی د کرنيزو محصولاتو د سـاتلو لپـاره سـړېخونې جوړېږي. د لغمان يوه کروندګر حليم وويل: «مونږ به چې فصل ورسېده، نو په نيم قيمت به مـو خرڅاوه، اوس مه دا سرخانې جوړې شي او دلتـه پکې زمونږ سـبزيانې وساتل شي، نو مونږ ته به يې يو څه فايده راورسيږي.))په داسې حال کې چې د لغمان اتيا سـلنه وکړې پر کرنه بوخت دي، خو وخت ناوخت به يې د حاصلاتو د خرابيدو او په مناسب وخت د بازار له نشتوالي شکايت کاوه چې د دې سړوخونو له جوړېدو سره به تر ډېره دغه ستونزه حل شي.

# Hewad Daily

د ورځپاڼو رئیس : م محمد ابراهیم نبیل
موبایل : ۰۷۸۲۰۸۰۶۶۶
آمر او مسئول مدیر : عطاء الله مبارز
موبایل: ۰۷۷۴۳۱۸۹۰۲
مسئول سکرتر: شېرمحمد نظري
موبایل: ۰۷۸۸۵۰۳۳۷۱

پته: د بهرنیو چارو وزارت ته مخامخ د اطلاعاتو او فرهنګ وزارت نوې ودانۍ
د اړیکو شمېره: س۰ ۲۵۲۶۳۱ - ۰۲۰
E-mail :info@hewaddaily.com
E-mail : hewad1948@gmail.com
دهیواد ورځپاڼې انټرنېټي پاڼې دلاندې وېب سایټ له لارې هم کتلی شئ
وېب سایټ: www.hewaddaily.com
د شکایاتو اوتوزیع ځانګه:
۰۷۹۳۵۳۱۵۱۳-۰۲۰۲۱۰۶۹

سه شنبه د ربیع الثاني ۲۳ مه ۱۴۴۵ ق کال د ۱۴۰۲ ل کال د لړم ۱۶ مه د 2023 م کال دنوامبر۷مه


# ستانکزی: د پاکستان حکومت دې افغانان نه ځوروي

د بهرنیو چارو وزارت سیاسي معین شېر محمد عباس ستانکزي د ((افغانستان راتلونکي اقتصادي پراختیا)) په غونډه کې وویل ،چې د پاکستان حکومت د افغان کډوالو په ایستلو کې له افغان حکومت او اړوندو نړیوالو سازمانونو سره مشوره نه ده کړې.سیاسي معین په ورته وخت کې په پاکستان کې د افغان کډوالو د ځورېدنې په تړاو خبرداری ورکړ ،چې د پاکستان حکومت دې د افغان کډوالو له ځورولو لاس واخلي او اسلامي امارت دې کوم غبرګون ته نه اړ کوي.نوموړي وویل، چې پاکستان په خورا ظالمانه ډول او له ټولو نړیوالو اصولو خلاف افغان کډوال په جبر سره باسي او د هغوی شتمنۍ لوټي.نوموړي همدا راز وویل چې پاکستان دې خپلې کورنۍ شخړې په خپله حل کړي او د خپلې هرې ستونزې پړه دې پر افغانانو نه اچوي.ستانکزي په یاد کنفرانس کې د اقتصادي پرمختګ لپاره په هیواد کې د نارینه وو او ښځینه وو تعلیم مهم وباله او یو ځل بیا یې وویل: زده کړې د ټولو افغانانو شرعي او طبیعي حق دی، چې دروازې یې باید ژر پرانیستل شي.د یادونې وړ ده چې د بهرنیو چارو وزارت سیاسي مرستیال له دې وړاندې هم د ښځو تعلیم مهم بللی و او غوښتنه یې کړې وه ،چې هر څه ژر د دوی پر مخ د ښوونځیو او پوهنتونونو دروازې پرانیستل شي.



# اسلامي امارت له پاکستانه راتلونکو کډوالو ته دوه میلیارده افغانۍ ځانګړې کړې

اسلامي امارت د هغو کډوالو لپاره چې له پاکستان څخه هیواد ته راستنېږي، دوه میلیارده افغانۍ ځانګړې کړې. د اسلامي امارت چارواکي وایي، له دې بودیجې یې موخه کډوالو ته د سرپناه، خوراکي توکو او روغتیایي اسانتیاوې برابرول دي. د چارواکو په وینا، حکومت هڅه کوي چې دغو کډوالو ته ټولې اسانتیاوې برابرې کړي. له دې وړاندې سرپرست حکومت دغو کډوالو ته یو میلیارد افغانۍ ځانګړې کړې وې.

## بهرني لنډخبرونه

# مولانا فضل الرحمن د حماس له مشرانو سره کتلي

د پاکستان جمعیت علماء اسلام ګوند مشر مولانا فضل الرحمن د قطر په پلازمېنې دوحه کې د حماس ډلې له سیاسي مشر اسماعیل هنیه او بل لوړپوړي مشر خالد مشعل سره کتلي او غزه کې د روانو حالاتو په اړه یې ورسره خبرې کړې کړي، چې روان وضعیت کې د فلسطین له خلکو ملاتړ وکړي. دغه پاکستاني سیاستوال او ورسره مل پلاوي یې په داسې مهال د حماس له مشرانو سره کتلي، چې پاکستاني حکومت تر دا مهاله له فلسطین څخه کوم د پام وړ ملاتړ نه دی کړی. د یادونې وړ



دي.فضل الرحمن په دې لیدنه کې د اسرائیلو ظلمونه غندلي او د فلسطین له خلکو څخه یې خپل ملاتړ اعلان کړی دی.د حماس مشرانو هم په دې ناسته کې پر اسلامي هیوادونو غږ کړی دی، چې مخکې تر دې ایراني او د ځینو نورو هیوادونو چارواکو او سیاستوالو هم په قطر کې د حماس له مشرانو سره لیدلي او د روان وضعیت په اړه یې ورسره خبرې کړې وې.

# لعل پوره کې راستنېدونکو کډوالو ته ۷۰ کورونه جوړېږي

تورخم ښارګوټي ته څېرمه لعلپورې کمپ کې د ننګرهار د والي ملا محمد نعیم اخند له لوري د راستنېدونکو افغانانو لپاره د ۷۰ کورونو، جومات، پاکو اوبو رسولو شبکې، کلینیک او ښوونځي د بنسټ ډبره کېښودل شوه، چې لګښت یې د قمر بنسټ له خوا ورکول کېږي.په دې کمپ کې د راستنېدونکو افغانانو د لنډمهالې مېشتېدنې لپاره ۷۰ کورونه، چې په هر کور ۲۲۰۰ امریکایي ډالره، د ۲۱۰۰۰ امریکایي ډالرو په ارزښت کلینیک، جومات، ښوونځی او د ۱۲۰۰۰ ډالرو په ارزښت د پاکو اوبو رسولو شبکه جوړېږي، چې امکان لري په کمپ کې د کورونو تعداد له ۷۰ پورته شي.



# یوه ترکي کمپنۍ په افغانستان کې د خامو نفتو د پروسس فابریکه جوړوي

د کانونو او پټرولیم وزارت سرپرست د ترکي کمپنۍ له استازي سره کتلي دي. په دې کتنه کې د ترکي کمپنۍ استازي د افغانستان دننه د خامو نفتو د تصفیې په برخه کې خپله علاقمندي ښودلې او ویلي یې دي چې د افغانستان د نفتو په برخه کې د پانګونې تر څنګ د هیواد دننه په سټنډرډ او معیاري توګه د نفتو د تصفیې فابریکه جوړوي. دغه راز په دې ناسته کې دغه استازي د کانونو او پټرولیم وزارت سرپرست سره د پانګونې لپاره د زمینې برابرولو، د اسانتیاوو رامنځته کولو او د هېواد دننه د خامو نفتو د کارخونې جوړولو په برخه کې د لازمو همکاریو ژمنه وکړه.

# کابل ښاروالي: سږ کال په کابل ښار کې ګڼې پروژې پیل شوې

د کابل ښاروالۍ چارواکي وایي، سږ کال له داخلي عوایدو څخه د ۵ میلیارده او ۲۴۰ میلیونه افغانیو په ارزښت ګڼې پروژې پلې شوې، چې په کې د سړکونو د جوړولو، د سړکونو د اسفالټ کولو او داسې نورو چارې شاملې دي، چې ځینې یې بشپړې شوې او پاتې نورې هم روانې دي.د کابل ښاروالۍ د فواید عامې رئیس نعمت الله بارکزي رسنیو سره په مرکه کې وویل چې سږ کال دغه ریاست ۱۵۰ پروژې درلودې چې ۸۱ یې د سړکونو او کانالونو جوړول دي. د ښاغلي بارکزي په وینا، د سړک جوړونې د ۸۱ پروژو له جملې څخه ډېری یې بشپړې شوې او د روان کال تر پایه به ۱۸ پروژې بشپړې شي.بارکزي زیاته کړه، چې د دغه ریاست په یو کلن پلان کې د سړک جوړولو ۲۰۰ کانکریټي پروژې هم شاملې دي، چې له دې جملې څخه ۴۵ پروژې بشپړې شوې او ۹۰ پروژې به د روان کال تر پایه بشپړې شي. ده په دوام وویل ،چې په راتلونکي کال کې به ۶۵ نورې پروژې هم پیل شي. د کابل ښاروالۍ د فواید عامې رئیس وویل، چې د کابل ښار د داخلي حلقوي سړک کار هم روان دی. ده وویل، چې په راتلونکو څو ورځو کې به په کابل ښار کې **۵مخ**



خلـــــک:

# د لغمان لرې پرتو سیمو کې روغتیایي خدمتونو ته لاسرسی اسانه شوی دی

لغمان کې د لرې پرتو سیمو اوسېدونکي وایي، چې د اسلامي امارت له راتګ وروسته د مرکز او ولسوالیو په هغو سیمو کې، چې پخوا پکې روغتیایي خدمات نه ترسره کېدل اوس ورته خپلو سیمو کې فرعي روغتیایي مرکزونه جوړ شوي او پروخت ورته روغتیایي خدمتونه ترسره کېږي.د الینګار ولسوالۍ منګو سیمه چې د ولسوالۍ له مرکزه شاوخوا لس کیلو متره لرې پرته ده، د PU-AMI موسسې له لوري پکې جوړ شوي **۵مخ**

# په عراق او سوریه کې د امریکا پر اډو د توغندیو بریدونه شوي

عراقي سرچینې وایي: د عراق په شمال او لوېدیځ کې د امریکا پوځي اډې او د سوریې په ختیځ کې د دغه هیواد پوځي اډې د توغندیو او بې پیلوټه الوتکو په بریدونو کې خبر ورکړی دی. د عراقي سرچینو د راپورونو له مخې، د اربیل هوایي ډګر ته څېرمه د ((حریر)) اډې د بې پیلوټه الوتکې له خوا برید شوی. په ورته وخت کې عراقي رسنیو



په نښه شوي دي.عراقي رسنیو او د سورېې سیمه ییزو سرچینو پرون سهار د عراق په شمال او لویدیځ او ختیځ سوریه کې پر ۳ امریکایي اډو د ۵ بریدونو خبر ورکړی، چې تر دې برید وړاندې د عراق په لویدیځ (لویدیځ) ولایت انبار کې د ((عین الاسد)) اډه هم د توغندیو برید شوی و.

# القسام: د صهیونیسټ رژیم درې ټانکونه مو ویجاړ کړل

د فلسطین د اسلامي مقاومت غورځنګ پوځي څانګې ((کتائب القسام)) اعلان وکړ چې د مقاومت جنګیالیو د غزې ترانګې مختلفو سیمو ته د ننوتلو هڅه کوله د صهیونیسټ رژیم ۳ ټانکونه ویجاړ کړل.د فلسطین د اسلامي مقاومت غورځنګ حماس پوځي څانګې ((کتائب القسام)) وړمه ورځ د صهیونیستي پوځیانو پرضد د مقاومت عملیاتو نوي جزئیات اعلان کړل. د حماس پوځي څانګې لومړی اعلان وکړ، چې د مقاومت جنګیالیو د صهیونیسټ رژیم یو ټانک چې د غزې ښار شمال لوېدیځ ته د ننوتو هڅه یې کوله ویجاړ کړ. څو شیبې وروسته کتائب القسام اعلان وکړ چې د اسرائیلي پوځ دوه نور ټانګونه چې د ((تل الحوا)) سیمې جنوب لوېدیځ ته ننوتلي وو، د ((یاسین ۱۰۵)) راکټونو په وسیله ویجاړ شول.

# لغمان کې د دریو سړوخونو د بیارغونې چارې پیل شوې

د لغمان د کرنې، اوبولګولو او مالدارۍ وزارت په مالي لګښت د دې ولایت په درېوو ولسوالیو کې د سړوخونو د بیارغونې چارې پیل شوې. د دې ولایت والي زین‌العابدین عابد وایي، دغه سړېخونې پخوا جوړې شوې وې او بیا ځلې رغول کېږي چې په وینا یې، بیارغېدنه به یې شاوخوا ۳۶ میلیونه افغانۍ لګښت ولري.نوموړي وویل: ((دغه سړېخونې چې د وزارت له لوري ترمیمېږي، یوه یې په قرغیو ولسوالي یوه په مهترلام او بله په الینګار ولسوالي کې موقعیت لري چې د ترمیم چارې به یې په څلور میاشتو کې بشپړې شي.))په ورته مهال د اقتصاد برخې کارپوهان دغه ولایت کې د سړوخونو جوړول د بزګرانو لپاره مهم ګڼي او په وینا یې، د سیمې خلک به هم د ژمي موسم کې په ټیټه بیه مېوې او سبزیجاتو ته لاسرسی ولري. **۵مخ**

# د بغلان په دو آبي روغتیایي مرکز کې د نري رنځ د تشخیص ماشین فعال شو

د بغلان د عامې روغتیا ریاست له لوري د دې ولایت د خوست ولسوالۍ د دو آبي په جامع روغتیایي مرکز کې د نري رنځ د تشخیص ماشین (جن اکسپرت) نصب او فعال شو.د یاد ولایت د عامې روغتیا ریاست د رسنیو د برخې همغږي کوونکي عبدالله ملنګ وایي، چې دغه ماشین ۳۸زره امریکایي ډالره ارزښت لري، چې ۹۹ سلنه د نري رنځ د پېښو د کشف له وړتیا څخه برخمن دی او کولای شي، چې په ډېرې اسانۍ **۵مخ**

